امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی امادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۳۱ سنبله الی ۵ میزان ۱۴۰۳

شماره هفتاد و پنجم

## له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملي ادارې او یونین ایډ(UNION AID) نړیوالې موسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابي او د یونین ایډ UNION AID نړیوالی موسیسې رئیس امجید احمد صافی؛ دهماهنګۍ مسؤل رشیدالدین او مل پلاوی سره د 1446/3/20 نېټه د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه.

ترابي صاحب دیونین ایډ راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته کړل چی باید خپلی مرستی دافغانی اولس سره جاری وساتی او همیشه دطبعی او غیر طبعی پیښو ځپلو کورنیو سره دوامداره همکاری وکړو او هغه مواد چی په خلکو یی ویشی کیفیت ئی باید سم وی...

ادامه در صفحه۲

### له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په روسیه کې مېشت د افغان سوداګرو لخوا مرسته سوی خوراکی موادو تسلیمی واخیسته



له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول 23 مه نېټه د خبریالانو او رسنیو په شتون کې په روسیه کې مېشت د افغان سوداګرو لخوا د اړمنو لپاره مرسته شوی خوراکی توکی...

ادامه در صفحه۲

### ۴ میلیونه، ۶۴۳ زره او ۱۰۰ افغانۍ ۲۱۰ زیانمنو کورنیو ته په ننګرهار ولایت کې وویشل شوې



د اکتېډ موسسې د ننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږی او همکاری، د 1446 کال د ربیع الاول په 20مه نېټه د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار اړوند ۲۱۰ کورنیو ته چې د طبیعی...

ادامه در صفحه۳

### په پروان ولایت کې د یو استنادی دیوال جوړولو لومړنی کارونه پیل شول



د پروان ولایت له پیښو سره د مبارزې ریاست, د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول په ۲۱مه نېټه د یاد ولایت بګرام ولسوالۍ په قرچه کلی کې د سېلابونو خطرونو..

ادامه در صفحه ۳

## له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملي اداري او یونین ایډ(UNION AID) نړیوالي موسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه



له پیښو سره د مبارزې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د یونین ایډ UNION AID نړیوالی موسیسې رئیس امجید احمد صافی؛ دهماهنګۍ مسؤل رشیدالدین او مل پلاوی سره د 1446/3/20 نېټه د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه.

ترابی صاحب دیونین ایډ راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته کړل چی باید خپلی مرستی دافغانی اولس سره جاری وساتی او همیشه دطعبی او غیر طبعی پیښو ځپلو کورنیو سره دوامداره همکاری وکړو او هغه مواد چی په خلګو یی ویشی کیفیت ئې باید سم وی.

همدارنګه ترابی صاحب وویل چی په هر ولایت کی مؤسیسات توزیع او یاهم سروې کوی موږ ورسره ددولت په اصولو اوچوکاټ کی پوره همکاره یو او زموږ د ادارې ریاستونه په هر ولایت کی شتون لری.

دیونین ایډ مؤسیسې رئیس امجید احمد صافی وویل چی یاده مؤسیسه په ۱۳۵۸ کی فعالیت پیل کړی دی او تل یی دسیلاب ځپلو؛ مهاجرینو او پیښو ځپلو سره همکاری کړی ده.

صافی صاحب وویل چی موږ د ۱۵۴۹۵۱ یو لک ځلور پنځوس زره نهه سو یو پنځوس ډالره په ارزښت په تخار؛ بدخشان او بغلان کی سیلاب ځپلو کورنیو سره مرسته کوو او هلته به خوراکی او غیر خوراکی توکی وویشل سی چی ترڅنګ به یی یوه دحفظ الصحی بسته هم ورسره وی.

په ورستیو کی ترابی صاحب دمرستی پر ژر انتقال او رسیدنه ټینګار او وویل چی دبغلان بُرکه ولسوالۍ موږ دنژدی کتلی ده او باید دموادو په رسیدنه کی ځنډ او خنډ رانه ولی.

دیادونی وړ ده چی یاده مرسته د بدخشان ولایت په تاشکان ولسوالۍ کی پر ۲۸۵ کورنیو؛ دتخار ولایت په چال ولسوالۍ کی پر ۲۸۹ کورنیو او دبغلان په بُرکه ولسوالۍ کی پر ۲۸۵ کورنیو چی مجموع پر ۸۵۹ سیلاب ځپلو مستحقو کورنیو پر هره کورنۍ یو راشن وویشل سی چی ذکر سوی مواد پکښی شامل دی بورۍ ۵۰ کیلو اوړه؛ یوه بورۍ ۲۴ کیلو ورجی؛۱۶ لیټره غوړی؛ یوه بورۍ ۱۰ کیلو بوره؛ لوبیا؛ یو کیلو مالګه؛ دوه پاکټه شین چاوی او دحفظ الصحی بسته شامله ده.

---

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست په روسیه کې مېشت د افغان سوداګرو لخوا مرسته سوی خوراکی موادو تسلیمی واخیسته

له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول 23 مه نېټه د خبریالانو او رسنیو په شتون کې په روسیه کې مېشت د افغان سوداګرو لخوا د اړمنو لپاره مرسته شوی خوراکی توکی د افغان بزنس سنتر استازی محترم عبدالسمیع الکوزی څخه تسلیمی واخیسته.



ترابی صاحب خبریالانو ته ووېل چې نن ورځ مو په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له استازی څخه ۳۵.۵ ټنه خوراکی توکی چې پکښې ۵۰۰ بورۍ اوړه، ۳۰۰ بورۍ وریجې او ۳ ټنه غوړی شامل دی مونږ یې تسلیمی واخیسته او له هغوی یې په قدردانۍ سره د نورو مرستو غوښتنه هم وکړه.

نوموړی د خبریالانو لخوا د راتلونکی ژمی لپاره د ژمنیو مرستو په اړه پوښتنو ته په ځواب ویلو سره ووېل چې موږ راتلونکی ژمی ته د چمتووالی په حالت

دی چې د کډوالۍ نړیوال سازمان په بېلابېلو ولایتونو کې اړمنو ته د نغدو پیسو د وېش ژمنه کړې ده.
له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د دې ترڅنګ چې د سروې او خلکو ته د مرستو د وېش په برخه کې د شفافیت رامنځته کولو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې په تېرو څه باندې دوه میاشتو کې مو په مجموع کې څه د پاسه ۳۵ میلیونه ډالرو په ارزښت په بېلابېلو برخو کې د مرستو د وېش هوکړه لیکونه لاسلیک کړی دی .
ورته مهال عبدالسمیع الکوزی ووېل، دغه مرستې په روسیه کې مېشت د افغان بزنس سنټر مشر محترم حاجی نادرشاه لخوا ترسره شوې دی او اختیار یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سره دی چې له چا سره مرسته کوی او دغه ډول مرستې به په راتلونکې کې هم دوام ومومی.

## ۴ میلیونه، ۶۴۳ زره او ۱۰۰ افغانۍ ۲۱۰ زیانمنو کورنیو ته په ننګرهار ولایت کې ووېشل شوې



د اکتیډ موسسې د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ او همکاری، د 1446 کال د ربیع الاول په 20مه نېټه د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار اړوند ۲۱۰ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته ۴ میلیونه، ۶۴۳ زره او ۱۰۰ افغانۍ ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۲۲ زره او ۱۱۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

## په پروان ولایت کې د یو استنادی دیوال جوړولو لومړنی کارونه پیل شول



د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست, د ۱۴۴۶ کال د ربیع الاول په ۲۱مه نېټه د یاد ولایت بګرام ولسوالۍ په قرچه کلی کې د سیلابونو خطرونو کمولو په موخه د یو استنادی دیوال جوړولو لومړنی کارونه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مقام د لارښوونې پر بنسټ پیل کړل.
د دې پروژې لپاره د ځانګړې شوې ځمکې د تسیلمی ورکولو او د خط اچولو کار نن ورځ د یو پلاوی او ساختمانی شرکت په شتون کې پیل شو او د دې پروژې لګښت د یادې ادارې له بودیجې څخه ورکول کېږی.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوی رئیس معرفي او کار یې پیل کړ



مولوی نجیب الله انوری د ۱.۱.۱ د ریاست الوزراء عالی مقام د حکم پر بنسټ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د نوی رئیس په توګه وګمارل شو. محترم مولوی عبدالهادی همت، د مقام د دفتر ریاست سرپرست چې مولوی صاحب انوری یې کارکونکو ته ور معرفي کړ په خپلو خبرو کې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست پخوانی رئیس د کړنو په ستاینې سره وویل: دولتی پوسټ یو امتیاز نه بلکه یو مسؤلیت او امانت دی او ترڅنګ یې نوموړی د مسؤلینو د اوامرو په اطاعت ټینګار وکړ. ورپسې د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر د تشکیل تشریح کولو، کارکونکو معرفي کولو او د همکاری ترسره کولو د ژمنې ترڅنګ له خدای ج څخه شاغلی نوری ته په چارو کې د بریالیتوب دعا وکړه.

## ۲۲ زیانمنو کورنیو په کونړ ولایت کې خوراکی مرستې ترلاسه کړې




د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP موسسې سره په همکاری، د یاد ولایت مرکز اسعدآباد او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۲ کورنیو ته چې د وروستیو طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د یاد ریاست مشر الحاج قاری ثابت الله صدیقی او د یادې موسسې استازی په شتون کې خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړی، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه او انرژی لرونکی بسکوټ او چاکلېټ ووېشل شول.

## په میدان وردګ ولایت کې ۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشل شوې



د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت مرکز میدان ښار او جلریز ولسوالۍ اړوند ۴ کورنیو ته چې د کورنۍ غړی یې د ناچاوده توکو له امله شهیدان شوې و، له سروې وروسته د یاد ریاست مشر محترم مولوی فیض الله جلالی په شتون کې خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۵۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۱ کارټن شیدې، ۵ تختې کمپلې، ۱ هایجن کېټ، ۱ د پخلنځی کېټ او ۲۰ کلچې صابن ووېشل شول.

## په پکتیا ولایت کې ۱۲ سېلاب ځپلو کورنیو سره نغدی مرستې ترسره شوې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IRC موسسې سره په همکاری، د یاد ولایت مرکز او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۱۲ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

## ۱۲ میلیونه، ۵۰۲ زره او ۹۰۰ افغانۍ ۸۰۲ زیانمنو کورنیو ته په بغلان ولایت کې ووېشل شوې

د CWSA او اسلامیک ریلیف موسسو د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږی، د دویم ځل لپاره ۸۰۲ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله د یاد ولایت په برکه او بغلان مرکزی ولسوالیو کې زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته ۱۲ میلیونه، ۵۰۲ زره او ۹۰۰ افغانۍ ووېشلې.



د یادونې ده چې د اسلامیک ریلیف موسسې لخوا، د 442 کورنیو لپاره ۱۹،۴۵۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته او د CWSA موسسې لخوا، په دویم قسط کې د ۳۶۰ کورنیو لپاره ۱۰۸۵۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده چې په تېره یوه میاشت کې د CWSA موسسې لخوا په لومړی قسط کې هم، د ۳۶۰ کورنیو لپاره ۱۱۰۵۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته وېشل شوې وې.

## نظارت از جریان پروژه پاک‌سازی ساحات ملوث با ماین و مهمات منفجر ناشده در بغلان




محترم مولوی هدایت الله همدرد، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان از جریان برنامه ماین پاکی موسسه OMAR که تمویل کننده آن دفتر اوچاء می‌باشد، نظارت به عمل آورد.
این پروژه تخنیکی جستجوی موادهای انفلاق ناشده درساحات ملوث در ولسوالی‌های دهنه غوری و دوشی آن ولایت تطبیق می‌گردد.
گفتنی است که در جریان نظارت از جریان کار ماین روبی در ساحه سنگرخیل ولسوالی دند غوری، موادهای انفلاق ناشده انفجار داده شد تا از تلفات و تاثیرات بعدی آن جلوگیری صورت گیرد.

## ۱۷۰ زیانمنو کورنیو په زابل ولایت کې خوراکی مرستې ترلاسه کړې




د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۱۷۰ کورنیو ته چې د طبیعی پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وورسته خوراکی مرستې ووېشلې. د یادونې وړ ده چې، په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۱ کارټن شیدې او ۲ تختې کمپلې وویشل شوې.

## د کونړ ولایت له پیښو سره دمبارزې آماګۍ ملي اداري ریاست د زیانمن سوی کورنیو سره نغدی مرسته وکړه




دکونړ ولایت له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د ۲۲ زیانمن سوی کورنیو سره مرسته وکړه.
له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ملی اداري مقام د تفاهم نامی په اساس د کونړ ولایت له پیښوسره دمبارزی آمادګی ملی اداري ریاست ترچتر لاندی د ډنمارک کډوالو نړیوالې شورا (DRC) له لوری دیاد ولایت مرکز اسعداباد په شمول نورګل، چپه دره، شیګل، مره وره،ناړی او وټه پور ولسوالیو کی د تیرو اوربشتونو له امله ۲۲ زیانمنو سو کورنیو سره نغدی مرستی وشولی چې دهرې کورنۍ ته د اړتیاوو دپوره کولو په موخه ۱۰۶۳۰افغانۍ چې جمله ۲۳۳۸۶۰ افغانۍ نغدی مرسته له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ریاست د اړیکو او انسجام مدیر او د DRC موسیسی استازو په حضور کی توزیع شوې یادو مرستو ترلاسه کوونکو له پیښو سره دمبارزې امادګی ریاست رئیس الحاج قاري ثابت الله صدیقی او ډنمارک کډوالو نړیوالې شورا (DRC) څخه مننه وکړه او خوشحالی څرګنده کړه چی ددوی غږ یی په خپل وخت واورید او لازمه مرسته یی ترسره کړه.

## ۴ میلیونه، ۲۴۰ زره او ۱۰۰ افغانۍ ۲۱۸ سیلاب ځپلو کورنیو ته په بغلان ولایت کې وویشل شوې



د اسلامیک ریلیف موسسې د بغلان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ، د یاد ولایت اړوند ۲۱۸ کورنیو ته چې د وروستیو سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته 4 میلیونه، ۲۴۰ زره او ۱۰۰ افغانۍ ووېشلې.
په دې مرستو کې هرې کورنۍ ۱۹۴۵۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

## ننګرهار ولایت له پیښو سره دمبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵ سېلاب ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستو وویشلې

د کډوالۍ نړیوال سازمان د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ د یاد ولایت مرکز جلال آباد ښار او حصارک ولسوالۍ اړوند ۱۵ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته غیرخوراکی مرستې وویشلې. دیادونی وړ ده چی په دې مرستو کې هرې کورنۍ ته د پخلنځی توکی، فرش، کمپلې، روغتیایی کېټونه او له یادې جملې ۲ کورنیو ته د دغو توکو ترڅنګ ۱ باب خیمه هم هرې کورنۍ ته وویشل شوه.



## په هرات ولایت کې د بشری مرستو د وېش په موخه د وچکالي له امله زیانمنو کورنیو سروې ترسره شوه



د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت ګلران ولسوالۍ کې د بشری مرستو د وېش په موخه د یادې ولسوالۍ اړوند د وچکالی له امله زیانمنو د ۱۳ کلیو ۷۱۴ کورنیو هر اړخېزه سروې د یاد ریاست درئیس  مولوی محمد موسی اشعری په لارښوونې ترسره شوه.

د یادونی وړ ده چې په یادو ۷۱۴ کورنیو ۴۹۴۳ نفوس شتون لری او په راتلونکو ورځو کې به دغو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستی وویشل شی.

## په تخار ولایت کې د راتلونکی ژمی له امله د احتمالي زیانمنونکو کورنیو سروې ترسره شوه

د تخار ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان سره په همکاری، د ژمی احتمالی زیانونو سره مخ کورنیو د سروې او پېژندنې لړۍ پیل کړه. د دې سروې په ترڅ کې په فرخار او ورسج ولسوالیو کې ۲۰ زیانمنونکې کورنۍ د ژمی مرستو د وېش لپاره په نښه شوې دی. د یادونې وړ ده چې د دې لړۍ په ترڅ کې به د راتلونکې ژمی څخه زیانمنونکو ۲۶۶ کورنیو ته ژمنۍ مرستې وویشل شی.



## د IOM موسسې سره د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په دې ولایت کې له یادې موسسې سره د همغږۍ غونډه ترسره کړه. د دې غونډې موخه دا وه چې د راتلونکی ژمی پر مهال د طبیعي پیښو احتمالی زیانمنو ته د رسیدنې د څرنګوالی په اړه خبرې وکړی. همدارنګه دواړو لوریو په تفصیل سره زیانمنو ته د رسیدنې په پروسه بحث وکړ او ترڅنګ یې د IOM موسسې مسؤولینو ژمنه وکړه چې په نږدې راتلونکی کې به په پروان ولایت کې د مرستو لړۍ پیل کړی.

د یادونې وړ ده چې د دې هوکړه لیک پر بنسټ، د پروان ولایت له پیښو سره د مبارزې ریاست به په زیانمنونکو سیمو کې خلکو ته د مرستو رسولو په بهیر کې مهم رول ولوبوی.

## ۴ میلیونه, ۸۸۲ زره او ۵۰۰ افغانۍ او خوراکی توکی ۶۳۰ بېوزله او مسحقو کورنیو ته په بغلان ولایت کې وویشل شوې



د AKAH موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ او همکارۍ, د یاد ولایت دهنه غوری ولسوالۍ اړوند ۶۳۰ بېوزله او مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته, د یاد ریاست مشر محترم مولوی هدایت الله همدرد په شتون کې ۴ میلیونه, ۸۸۲ زره او ۵۰۰ افغانۍ او خوراکی توکی وویشل.

د یادونې وړ ده چې له یادې جملې ۳۱۵ کورنیو ته ۲۰۰ کیلو اوړه, ۱۲ لیتره غوړی, 14 کیلو لوبیا او ۳.۵ کیلو مالګه هرې کورنۍ ته, او پاتې نورو کورنیو ته ۱۵۵۰۰ افغانۍ هرې کورنۍ ته وویشل شوې.

## دننګرهار ولایت له پیښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې ریاست لخوا ۱۱۶ زیانمن شوی کورنیو ته ۱ میلون ۲۶۶ زره او ۷۲۰ افغانۍ بیړنۍ مرستې وویشل شوې



د ماشوم ساتنی مؤسسی ۱۱۶ د مهمندری ولسوالۍ اړوند غوړکی سیمی کی هغه کورنۍ چی د وروستیو پیښو له اثره بی ځایه شوی وی نغدی مرسته ورسره وشول.

یاد زیانمن شوی کورنۍ د ماشوم ساتنی مؤسسی د مهمندری ولسوالۍ اړوند سیمو کی سروې او انتخاب کړی دی.

هری زیانمن شوی کورنۍ ته ۱۰۹۲۰ افغانی د غذایی او غیر غذایی مواد په موخه وویشل شوی.

## له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملي ادارې د تفاهم نامې په اساس په ننګرهار ولایت کی ۲۴ فامیلونو سره ۱ میلون، ۵۷ زره او ۲۰۰ افغانیو مرسته، د سرپنا په برخه کی ترسره شوه




د ډنمارک د مهاجرت سازمان ( DRC ) په مالی مرسته او دننګرهار ولایت له پیښو سره دمبارزې اماګۍ ریاست په همکارۍ د ۲۴ فامیلونو سره په سپین غر ولسوالۍ کی د سرپنا په برخه کی مرسته وشول .

هر فامیل ته د ۴۰۲۰۰ افغانیو څخه نیولی تر ۵۱۷۵۰ افغانیو پوری نغدی مرسته وویشل شوه ترڅو پری خپل کورونه جوړ کړی.

هغه کسانو چی مرسته یی ترلاسه کړل له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملی ادارې او DRC مؤسیسې څخه مننه وکړه.

## مؤسیساتو له لوری دطبیعی پیښو WFP او IOM د لغمان ولایت له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ریاست او له زیانمنو ۱۹ کورنیو سره د خوارکی او غیر خوراکی توکو مرسته وشوه




دلغمان ولایت دمرکز مهترلام او الینګار الیشنګ ولسوالیو له 19 هغه کورنیو سره دخوراکی او غیر خوراکی توکو مرستې وشوې چې د اوسېدو کوټې یې په وروښتونو او اورلګیدنې کې زیانمنې شوې وې او سروی یی د لغمان ولایت له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ریاست په همغږۍ دIOM.WFP لخوا ترسره شوې وه.

هرې زیانمنې کورنۍ ته دIOM مهاجرت نړیوالې سازمان لخوا داشپزخانې کیټ،درې کمپلې،هایجین کیټ ،دسرپنا جوړونې کیټ،سولرې څراغونه، او دالبسې کیټونه ورکړل شول.

دغه راز ۸ هغه کورنیو ته چې د اوسېدو کوټې یې په بشپړه ډول له منځه تللې وې یوه یوه غټ خیمه هم ورکړل شوه.

دWFP خوراک نړیوال پروګرام په مالی لګښت او د RRDP0 په تخنیکی همکارۍ هری کورنۍ ته ددوه میاشتو خوراکی موادو مرسته وکړه هری کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو ګرامه وړه ۱۸.۵ګرامه غوړی مالګه بیسکیټ حلوا ورکړل شوه

مرسته اخیستونکو کورنیو دیادو همکارو مؤسیسو او دطبیعی پیښو پر وړاندې د مبارزې او چمتوالی له ریاست څخه مننه کړه چې پر وخت ته یی د دوی ستونزو ته رسیدنه وکړه.